استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی ۱۲آگست، ۲۰۲٤

# د علي اکبر اورکزي دېوان یا ګلشن افغان

د اتحاد جماهیر شوروي د ارمنستان د جمهوریت د مرکزي ښار ایروان په کتابخانه کي یو ډېر خوشخطه او ښکلی منقوش او مذهب (طلاکاري) او مصور دېوان سته، چي په هغه کتابخانه کي یي نمبر (۵۳۸) دئ.

نه پوهېږم چي دغه قلمي ښکلې او مصوره نسخه څنګه له پښتونخوا او کشمیره ارمنستان ته وړل سوې ده؟ د دې نسخې یو میکروفلم د کابل په عامه کتابخانه کي سته.

د نسخې خط ښکلی نستعلیق دئ، او ځیني مصور مخونه هم لري، د تصویر او تذهیب سبک یي کشمیری او متأخر دئ، خو د ښکلا او رنګ او تصویر او تذهیب اټکل یي په تور میکروفلم کي ښه نه کېږي، او فقط دوني ښکاري چي یوه ښکلې او ښه خوشخطه نسخه ده.

علي اکبر په قوم اورکزی دئ، دا پښتون قوم په تیراه او د کورمي په سیمو کي له قدیمه اوسي، او دا هغه وادي ده چي تر اسلام دمخه د کوشانیانو وروستني شهزادګانو او د کابلشاهانو په لاس کي وه او اکثر د هندوستان تجارتي کاروانونه او د فاتحانو لښکر به له دغو سیمو څخه تېرېدل.

کله چي امیر تېمورلنګ په ۸۰۰ هـ د هندوستان د نیولو لپاره له دغو سیمو څخه تېرېدی، د دې ځایو مشران شیخ احمد خواجه اوغاني او ملک محمد او لشکرشاه اوغاني او موسی اوغاني او شیخ عبدل وو[۱] او مؤرخان د دې ځای د ایریاب او شنوزان درې یادوي، چي هلته یوه اوغاني قبیله اورکزئي اوسېده[۱].

له دې تاریخي سنده ښکاري چي اورکزي اوغانان اووه – اته سوه کاله دمخه لا هم په دې ځای کي اوسېدل.

علي اکبر اورکزی له دې ځایه د ۱۱۶۵ هـ په حدودو کي هندوستان ته تللی او په اکثرو ښارو ګرځېدلی دئ، د ده وظیفه غالباً عسکریت دئ، خو په پښتو او دري ژبو ښه شاعر او لیکوال هم و.

د ده دېوان مردفي پښتو او دري برخي لري او يو سني مذهبه حنفي او د نقشبندي طريقي پيرو، باذوقه او اديب پښتون ښكاري، د خپل دېوان مقدمه په دري داسي ليكي:

"سپاس و ستايش بی پايان و حمد و ثنای فراوان، مر متكلمی را سزاوار است كه زبان هر حامد بچندين لغات مختلفه گويا گردانيد و هر قومی رامعنی لغات تازی و دری[۳] و افغانی دانايند ... اين فقير احقر مولای سيد بشر، علی اكبر بن قاسم خان اوركزئی قوم افغان، ساكن تيراه خيبر، در حداثت سن و آوان طفلی، كه طبيعتش مانند كف مفلسان از نقد فن شاعری عاری بوده ... بفرمايش سلطان شوق، به تسويد غزلی چند بزبان افغانی كه محاورهٔ اسلاف و مانوس الاستعمال بود چند صفحه را سياه ساخت و براقعات متفرقه مرقوم شد ... بعد ازان در عنفوان شباب در تعلم و آموختن اين فن، نزد اكثری از اولوالالباب سعی مرفور بكار برده ... و چون اين گلدسته مشتمل بر ازهار الفاظ رنگين و متضمن اثمار معانی شيرين است، به اتقای حضرت يزدان به (گلشن افغان) موسوم گشت...".

د ګلشن افغان لومړی غزل

| | |
|---|---|
| زړه مي بل هغه دلر په اور د غم كا | ججچي مي ورک په دغه اور د سترګو نم كا |
| هسي ما غوندي يې ډېر عالم ختراب كړ | كرشمه و ناز پيشه چي يې صنم كا |
| د عالم په باب ژوندی له مړو بتر يم | كه څوک شمار ځما په عين د عالم كا |
| سرومال تالا كوي پروا يې نه شي | كه جهان سره برهم په يوه دم كا |
| لكه دی كاندي د هر عاشق په باب كي | د ازل حكم نه لوحه نه قلم كا |
| په دغه ساعت يې زړه له ما نه يووړ | اوس پخپله غلا انكار راوړي قسم كا |
| د سپين مخ په عكس هر شي ته به ګوري | د مضمون په نمايش يې جام د جم كا |

هر ساعت به د يار ذكر كا په ژبه
كه اكبر د زړه د زخم څوک مرهم كا

اكبر د هند په ښارو كي د پښتنو سره محشور و او له هيواده يې خپل سلامونه د وطن يارانو ته را استول، دی په يوه اوږده قصيده كي خپل ياران يادوي، چي يو څو بيته يې دا دي:

| | | |
|---|---|---|
| باده! والوزه وطن ته په رفتار شه | | د هر چا له حاله بېل بېل خبردار شه |
| لکهنو له ښهره کوچ وکړه بهار ته[۴] | | په کتهیرو پښتانه باندي ګذار شه |
| د سردار سرفراز خان پرسش لازم دئ | | چي ځښتن يي هم ياور هم مددګار شه |
| د حاجي اخون په قبر دعا وکړه | | د یوسف په حال دانا او خبردار شه |

وروسته د پېښور د سيمي ځيني ياران يادوي او د ميا عمر ځمکني دوه زامن داسي ستايي:

| |
|---|
| کشر ميان ته په دوه لاسه تعــظيم وکـــه |
| محمدي صاحب[۵] ته هم په تعظيم پار شه |

د اکبر ســـــلام پر هر چا باندي وايه

په دعا مي يادوئ چي برخوردار شه

اکبر چي د تېراه د غرو او بنو خوشنوا بلبل و، په هند کي له ژوندونه په عذاب سوی و او خپل وطن يي داسي ياداوه:

| | | |
|---|---|---|
| نــور توبـــه مـــي له پنجــابه هـم له هنده | | په نصيب ځما که خپل ملک و وطن شي |
| چي خاطر مي دئ بندي په تور وربل کي | | ځــکه نه مـــي شي استوګــه په کـابل کي |

اورکزی د پښتنو شاعرانو له کلامه سره آشنا دئ، ډېر شاعران يادوي او خوشحال خان ختک داسي ستايي:

| | | |
|---|---|---|
| نور د شعر مزه مه غواړه له چا نه | | پـوهنـده د هـر کـلام ښه سخندان ولاړ |
| د خوشحال ختک ارمان به اکبر یوسي | | چي د میني د اخلاص کان له جهان ولاړ |

خپل سکونت په کشمير کي بيانوي او د هغه ځای په لښکرکښيو کي خپله برخه ښيي:

په کشمير کي وم څو کاله
په زيارت د پير مرشد مي
آخر نيت مي د کشمير کړ
واسطه سلطان محمود[٦] شو
د کشمير حاکم امير و
له وطنه را روان شوم
بل د ورستو مي غبړ راغی
شو سردار کشمير يې واخيست
ج___و حاکم نورالدين خان
خدای عطا کړ دين، ايمان
له فراقه شوم ناتوان
وين[٧] يې کړو ډېر قاصدان
منافق شو له سلطان
د لښکرو په سامان
چي حاجي کريمداد خان
له درباره د خاقان[٨]

له دې قصيدې څخه ښکاري، چي اکبر د احمدشاه بابا په زمانه کي کشمير ته تللی و، ځکه چي نورالدين خان مصلح الدوله پوپلزی په ۱۱۷۵ هـ کي له احمدشاهي درباره د کشمير ناظم مقرر سوی او هغه ځای يې فتح کړی و، خو وروسته د ۱۱۸٦ هـ په حدودو کي حاجي کريمداد خان پوپلزی عرض بېګي د کهندل خان زوی هلته مقرر سوی دئ[٩]، او لکه چي اکبر پخپل دېوان کي اشارې کوي، دغه حاجي کريمداد خان د ده مخالف و، دی وايي:

"کريمداد قوم درانی افغان با حقير عناد ذاتی داشت".

د اکبر په پښتو او دري اشعارو کي د ده د عمر ډېر وقايع ذکر سوي دي، دی په پښتو اشعارو کي د متوسطي درجې شاعر ګڼل کيږي، او کله نامأنوس الفاظ هم استعمالوي، چي ښايي هغه د اورکزو له خاصو محاورو څخه وي، لکه په دې غزل کي:

| | |
|---|---|
| تا چي زلفي په سپين مــخ کړلې الوولي؟ | عاشــقان دي پکښـــې بنــد کـلړل ډلـي ډلـي |
| هسي بحر ستا د ميني لـــوی عظــيم دئ | چي څوک نه ځي ترې بېرون له يوې جلي؟ |
| تر مقدوره ځان په اور کله څوک سوځي | سـتا د عشـــق لنـــبه راکـــارې عـــالـــم بلي؟ |
| هـر نظر چي ستا د حســـن په ليـدو کـــا | د عاشـــق لـــه ستـــرګو اوښـــي کـــا راتلي؟ |

دغه جور ستا په هر چا هسي دېردئ
که ستم کړې په اکبر باندي هر ځلي

د اکبر په دري شعرونو کي مناجاتونه، مثنوي، غزليات، رباعيات او مخمسونه شامل دي، د حافظ شېرازي ځيني غزليات تخميس کوي او ځکه چي دی د نقشبندي طريقې پيرو دئ نو يې (نسب نامهٔ خواجګان عاليشان) په دري مثنوي کي منظومه کړې او د شاه نقشبند لپاره هم داسي اشعار لري، چي اول بند يې دا دئ:

| | | |
|---|---|---|
| شاه شاهان و عاشـــق مــولا | | ســــــيد آل ســرور والا |
| ای شه و شهسوار هر دو سرا | | رهبر رهروان راه هـدا |
| يا شـــه نقـشبـــند بنآآد کـــشا | | مشکلی دارم از برای خدا |

مشکلاتم بفضل حق بکشا

د اکبر د دري رباعياتو څخه يوه نمونه:

| | | |
|---|---|---|
| از نقش اگر درگذری جان بينی | | در خوان محبت دل بريان بينی |
| بر بند دهان و ديدهٔ دل بکـشای | | تا شام و سحر جمال جانان بينی |

يو غزل

بمشتاقان رويت قصه هر جـا مـيتوان گفتن
حديث حسن يوسـف بازليخا ميـتوان گفتن
چو احوال شهيدان از طبيبان كس نمی پرسد
زبيـمار نگاهـت با مسيحا ميتـوان گـفتـن
فتاده نيم بسمل بر سرره همچو من صــدها
جفای ابرويش تيـغ قـضا را مــيتوان گفتن
چمن گل گل شگفته از نسيم صبح نوروزی
زحال غنچه دلــها كسی را مـيتوان گــفتن
خراب بادۀ لعل تـو شد امشـب اگر بـخشی
كه حـال اكبر بدمست فـردا مـيتوان گـفتن

اکبر پخپل دېوان کي شاه عبدالرحيم نقشبندي خپل روحاني پير ستايي او بل خپل استاد شاه معظم ښيي(۱۰)، چي د هغه يوه موعظت نامه په دري نثر هم ليکي.

په دې ډول اکبر اورکزی زموږ د ادبياتو د تاريخ د دوو ژبو يو ښه شاعر او ليکوال او باذوقه سړی دئ، چي زه د ده دغه مستانه بيت د خپل ليک په پای کي وړاندي کوم:

هر ساقي چي د طرب پيـاله کا پورته
ميخوران به واړه ودانګي دې لـور ته

او دا غزل د خواجه محمد بنګښ د هغي غزلي جواب دئ، چي د هغه يو ښکلی بيت دا دئ:

ګوتي توري کړې په ما يــې کړې راپوري
زه حيران يم ســتا د سپينو ګــوتو تور ته

۱. ظفر نامه ۲\۳٤-۱۳۷.

۲. روزنامۀ غزوات هندوستان ۵۸، د پترګراد طبع، ۱۹۱۵ م. په دې کتاب کي دا نوم غلط اورکزني (؟) چاپ سوي دئ.

۳. د دري د نامه استعمال د فارسي پر ځاي دلته د غور وړ دئ.

٤. کوچ بهار د هند يوه سيمه ده او دلته د کوچ په معني کي يو راز ايهام موجود دئ.

۵. محمدي حاجبزاده د ديوان خاوند معاصر شاعر، چي د اکثرو شاعرانو او پوهانو سره يې رابطه

درلوده.

٦.بنايي چي مراد محمود خان د کشمير مشر وي، چي د ذهلي له درباره په کعمير کي ا نواب عنايت الله خان والي کشمير سره ملگري و او په ١١٦٥ هـ افغاني حکومت ته ايل سو.

٧. په اصل نسخه که داسي ليکل سوي دي: آياوين کول استول دي؟

٨. مراد د احمد شاه بابا دئ.

٩. تيمور شاه دراني، ا\٢٥٤.

١٠. پير معظم شاه د پير محمد فاضل زوي د پيښور د پير سباک اوسيدونکي و، چي په هند کي د حافظ رحمت خان بړيڅ په خدمت کي داخل و او د ده په خواهښت يې د ميرما (؟) د پښتو تاريخ افاغنه د تواريخ رحمت خاني په نامه په ١١٨١ هـ لنذ کړ، او تاريخ افاغنه په ١٠٣١هـ په پښتو ليکل سوي و. دا کتاب د ښبني او غوري او يوسفزو قبايلو تاريخ دئ، چي اووه مقامه لري، د بايزيد انصاري (پير روښان) او د ده د مريدانو احوال هم لري. د تواريخ رحمت خاني دري ترجمه په ١٢٢٩هـ اله يار خان د حافظ رحمت خان زوي، د خلاصة الانساب په نامه کړيده (فارسي ادبيات د ستوري تاليف ا\٣٩٦ د لندن طبع ١٩٥٨م)

وږمه مجله، د ١٣٤٨ ش کال څلورمه او پنځمه گڼه، ٤٦-٥١ مخونه.

پای